فريدون خواځون ۲۰۱۲/۱۲/۳۰

# د جلالکوټ ادبي خوځښت له لوري
## د فساد پر ضد غونډه او مشاعره وشوه

په ننګرهار کې د لسګونه ځوانانو د فساد پر ضد د مبارزې غونډه وکړه. دغه غونډه چې د جلالکوټ ادبي خوځښت له لوري جوړې شوې وه، د مدني ټولنو، ځوانانو، د پوهنتونو استادانو او لسګونه شاعرانو او فرهنګيانو برخه اخيستې وه، چې پر وينا سربېره په کې لسګونو شاعرانو د فساد پر ضد شعرونه وويل.

د جلالکوټ ادبي خوځښت مشر ارشاد رغاند وويل، چې د فساد پر ضد مبارزه يې له اهدافو څخه ده او په دې برخه کې به نور ګامونه هم واخلي.

هغه وويل، افغانستان تېر کال د نړۍ په کچه دويم مفسد هېواد و، خو د حکومت د بېغورۍ له امله سږ کال افغانستان د نړۍ په کچه لومړی مقام تر سره کړ.

نوموړي زياته کړه، له فساد سره مبارزه د هر افغان دنده ده او په کار ده چې ټول ځوانان او افغانان ورسره په جدي ډول مبارزه وکړي.

ښاغلی رغاند وايي، له پخوا څخه فرهنګيانو او شاعرانو د ټولنې په اصلاح کې خپل رول تر سره کړی، د ناخوالو او ستونزو په ځانګړي ډول د فساد پر ضد يې خپل غږ پورته کړی دی.

ده وويل، دوی هم د خپل مسووليت له مخې دغه ډول غونډه جوړه کړه. د جلال کوټ ادبي خوځښت مشر وويل، په کار ده چې مدني ټولنې او په ځانګړي ډول ځوانان نور له دې پديدې سره مبارزه جدي ونيسي او حکومت ته اجازه ورنه کړي، چې فساد همدغسې په خپلو ادارو کې روان وساتي.

نوموړي زياته کړه، په حکومت کې تر اوسه له فساد سره د مبارزې هوډ نشته او په کار ده چې په دې برخه کې نور بې تفاوته پاتې نشي، خپلې هغه ژمنې عملي کړي، چې له نړيوالو سره يې کړي دي او د ملت برخليک له ننګونو سره مخ نه کړي.

همدارنګه غونډې ته ديني عالم استاد محمدغني فاروقي وينا وکړه او ويې ويل، چې مومن او مفسد هېڅکله نه جوړېږي. هغه وويل، حکومت او افغانانو ته د شرم خبره ده چې هېواد يې د فساد له اړخه لومړی هېواد راځي.

ده وويل، د فساد اصلي لامل د نفس غلامي ده، چې اوسني چارواکي پرې روږدي شوي دي. ښاغلي فاروقي وويل، په قران کې پنځوس ځلي د فساد کليمه راغلي، خو يوازې رشوت او بډې فساد نه دی.

هغه ويل، دغه ډول غونډې د فساد په ورکاوي کې ډېرې اغېزمنې تماميداې او غوښتنه يې وکړه چې نور ليکوالان دې دغه ډول غونډې جوړې کړي.

له فساد سره د افغاني شبکې وياند ډاکټر شکر الله مشکور له خوځښته د مننې تر څنګ چې دغسې يوه غونډه يې جوړه کړې وويل، چې افغانستان له فساد سره د مبارزې نړيوال کنفوانسيون لاسليک او مکلف دی چې ورته ژمن پاتې شي.

نوموړي وويل، نور افغانان، مدني ټولنې، فرهنګيان او ځوانان نشي زغملای چې په هېواد کې دې فساد په اوج کې وي او هر کال دې افغانستان د نړۍ مفسد هېواد اعلان شي.


افغان جرمن آنلاين تاسو په درنـښت همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادښت: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولـئ

ډاکټر مشکور غوښتنه وکړه، چې حکومت دې تر هر څه ژر له فساد سره جدي مبارزه پیل کړي، فاسد چارواکي دې له دندو ګوښه او محاکمه دې کړي.

د نوموړي په خبره، همدرانګه دې غصب شوې ځمکې او په فساد کې د چارواکیو له خوا پیدا شوې شتمنی باید بیت المال ته وسپارل شي، څو خلک په خپل راتلونکي او حکومت ډاډه شي.

هغه اندېښنه وښوده، که چېرې له فساد سره مبارزه جدي ونه نیول شي؛ نو دغه پدیده به په یوې داسي ستونزې واوړي، چې جبران ناپذیره به وي او بیا به یې مخنیوی د حکومت له واکه وتلی وي.

په ختیز زون کې د بشري حقونو او مدني ټولنو مشر نعمت الله همدرد د جلالکوټ ادبي خوځښت ستاینه وکړه چې وخت په وخت یې په خورا مهمو او حساسو مسایلو غونډې جوړې کړي دي.

نوموړي وویل، فساد یوه مهمه او ناوړه پدیده چې دمګړۍ ورسره افغانستان مخ دی او دا چې د دې پدیدې پر وړاندې ځوانانو غږ را پورته کړی، په کار ده چې ملاتړ یې وشي.

ښاغلي همدرد وویل، دغه ډول غونډې ارزښتمني دي او له حکومتي کمېسیونونو او ادارو څخه اغېزمني دي او کولای شي چې د فساد پر ضد مبارزې ته ولس را وهڅوي.

د غونډې په پای کې د پوهنتون استاد او سیاسی شنناند شېر علم امله وینا وکړه او فساد یې یوه برخلیک ننګوونکي پدیده وګڼله.

هغه وویل، تر هغې چې له فساد سره مبارزې ته جدي او ولسي اراده پیدا نشي، نو د فساد مخنیوی او له منځه وړل به یې ناشوني وی. ده زیاته کړه، حکومت په فاسدو چارواکیو فساد له منځه وړي، چې عملاً یو بې بنسټه کار دی.

ښاغلي امله وال له فساد سره په مبارزه کې د فرهنګي او مدني ټولنو ونډه اغېزمنه وبلله او ټولو مدني ټولنو یې وغوښتل چې خپلې مبارزې ته په همغږۍ ډول دوام ورکړي.

د یادوني وړ ده، چې د فساد پر ضد د افغاني شبکې، جلالکوټ ادبي خوځښت ته د ښو فعالیتونو له امله یو ستاینلیک هم ورکړ.

پای


افغان جرمن آنلاین په درښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادښت: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راليږلو مخکې په ځیر و لولـئ